# الإسلام - نبذة موجزة عن الإسلام (مجردة من الأدلة)

بسم الله الرحمن الرحيم

# اسلام

## د اسلام په اړه لنډ پيغام؛ لکه څرنګه چې په قرآن کريم او نبوي سنتو کې راغلی دی

(له دلايلو څخه خالي نسخه)[1]

دا داسې يو اړين پيغام دی چې د اسلام پر لنډې پېژندنې مشتمل دی چې د هغه له اصلي سرچينو قرآن او نبوي سنتو څخه يې بنسټونه، لاربنوونې او ښېګڼې بيانوي، او دا پيغام مسلمانو او نامسلمانو ټولو مکلفينو ته د هغوی په ژبو د بېلابېلو ظروفو او حالاتو سره په هر ځای او وخت کې متوجه دی.

١. اسلام د الله له لورې ټولو خلکو ته يو پيغام دی، نو هغه يو تلپاتې الهي پيغام دی.

٢- او اسلام په يو جنس او قوم پورې خاص دين نه دی، بلکې ټولو خلکو ته د الله دين دی.

٣. اسلام هغه الهي پيغام دی چې د پخوانيو نبيانو او رسولانو عليهم السلام د رسالتونو بشپړونکی دی چې هغوی خپلو امتونو ته راوړي وو.

---

[1] د دې رسالې يوه بله نسخه شتون لري چې د هغې پر هره مسئله له قرآن کريم او نبوي سنتو څخه دلايل وړاندې شوي دي، د مطالعې لپاره يې د دې تړوني له لارې وګورئ: .https://islamhouse.com/ar/books/2830071

۴. د انبیاوو علیهم السلام دین یو او شریعتونه یې جلا جلا دي.

۵. اسلام هم لکه د نورو ټولو انبیاوو علیهم السلام لکه: نوح، ابراهیم، موسی، سلیمان، داود او عیسی علیهم السلام په څېر ایمان ته بلنه ورکوي چې بېشکه پالونکی هغه الله دی چې پیداکوونکی، روزي ورکوونکی، ژوندی کوونکی، مړ کوونکی او د پاچایۍ څښتن دی، او همغه دی چې چارې سمبالوي، او مهربانه لوروونکی ذات دی.

۶. همغه الله پاک پیداکوونکی او یوازې همغه د بنده ګۍ حقدار دی او دا چې له هغه سره د بل چا بنده ګي ونه شي.

۷. الله د هر هغه څه پیداکوونکی دی چې په کائناتو کې یې موږ وینو، یا یې نه وینو، او له هغه پرته ټول یې له مخلوقاتو څخه مخلوق دي، او الله اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې پیداکړي دي.

. او الله پاک لره نه په پاچایۍ، نه په پیدایښت، نه په تدبیر او نه په عبادت کې شریک شته.

۹. او الله پاک نه څوک زېږولي او نه له چا زېږېدلی او نه هغه لره کوم سیال شته او نه کوم مثال.

. او الله پاک په هیڅ شي کې منحل شوی ندی، او نه له خپل مخلوق څخه په هیڅ شي کې جسد شوی دی.

۱۱. الله تعالی پر خپلو بندګانو مهربانه او رحم کوونکی دی، ځکه یې رسولان رالیږلي او کتابونه یې نازل کړي دي.

۱۲. الله همغه پالونکی مهربان دی، یوازې همغه دی چې د قیامت په ورځ به له خلکو سره حساب کوي کله چې هغوی ټول له قبرونو څخه راپورته کړي، نو هر چا ته به یې د کړي خېر او شر بدله ورکړي؛ نو چا چې نېکۍ کړې وي په داسې حال کې چې مؤمن وي، هغه لره به تلپاتې لوربېنې وي او چا چې کفر او ګناهونه کړي وي، هغه لره به په آخرت کې لوی عذاب وي.

۱۳. الله پاک آدم له خاورې پیداکړ، او له هغه وروسته یې اولاده همداسې زیاتېدله، نو ټول خلک د خپل اصل له پلوه سره برابر دي، نه یو جنس پر بل جنس او نه یو قوم پر بل قوم غوراوی لري مګر د تقوا له مخې.

۱۴. او هر بچی پر فطرت پیداکیږي.

۱۵. او هیڅ بشر داسې نه دی چې ګناهکار وزیږول شي او یا ورته د بل چا ګناه په میراث پاتې شي.

۱۶. او د خلکو له پیدایښت څخه موخه دا ده: چې یوازې د الله عبادت وکړي.

۱۷. اسلام انسان ته عزت ورکړی -که نارینه دی او که ښځینه- او ټول حقونه یې ورته تضمین کړي دي، او هغه یې د ټولو اختیاراتو، کړنو او تصرفاتو مسئوول ګرځولی، او هغه د هر هغه کار مسؤول ګرځوي چې خپل ځان ته یا نورو خلکو ته زیان ورسوي.

۱۸. او نارینه او ښځینه یې د مسؤولیت، بدلې او ثواب له پلوه سره برابر ګرځولي دي.

۱۹. اسلام ښځې ته درناوی ورکړی او ښځې یې د نارینه وو سیالانې ګرځولي او پر سړي یې له توان سره د هغې نفقه لازم کړې؛ نو د لور نفقه یې پر پلار او د مور پر بالغ توان لرونکي زوی او د مېرمنې پر مېړه واجبه کړې ده.

۲۰. مرګ د تل لپاره پناه کېدل ندي، بلکې هغه د عمل له کوره د بدلې کور ته تګ دی، مرګ جسد او روح دواړو ته رسیږي، د روح مرګ له بدن څخه جلا کېدل دي، چې بیا د قیامت په ورځ له را پاڅېدلو وروسته ورته بېرته راستنیږي، او له مرګ وروسته روح بل هیڅ جسد ته نه انتقالیږي او نه په بل جسد کې ننوځي.

۲۱. اسلام د ایمان سترو اصولو ته بلنه ورکوي، چې هغه دا دي: پر الله تعالی ایمان، پر ملائکو ایمان، پر الهي کتابونو لکه تورات، انجیل او زبور ـ د تحریف نه مخکې ـ او پر قرآنکریم ایمان، او پر ټولو انبیاوو او رسولانو علیهم السلام ایمان لرل، د هغوی د دې لړۍ پر پای رسوونکي ایمان چې هغه د الله رسول؛ محمد صلی الله علیه وسلم دی او هغه د نبیانو او رسولانو د لړۍ پای ته رسوونکی دی، د آخرت په ورځ ایمان. او موږ پوهیږو چې که د دنیا ژوند د هرڅه پای وي، نو ژوندون او شتون به له هر اړخه بې ګټې و او په قضاء او تقدیر ایمان راوړل.

۲۲. انبیاء علیهم السلام په هغه څه کې معصوم دي چې د الله له لوري یې رسوي، او له هر هغه څه څخه معصوم دي چې له عقل سره په ټکر کې وي او یا یې سالم اخلاق ردوي، او نبیان بندګانو ته د الله تعالی د امرونو په رسولو مکلف دي،

او نبیان د ربوبیت او الوهیت له ځانګړنو څخه هیڅ ځانګړنه نلري؛ بلکې هغوی د ټولو انسانانو په څېر انسانان دي چې الله تعالی هغوی ته خپل پیغامونه وحي کوي.

۲۳. او اسلام یوازې د الله عبادت ته د لویو عبادتونو په اصولو سره بلنه ورکوي چې هغه: داسې لمونځ دی چې ولاړه (قیام)، رکوع، سجده، د الله یاد، د هغه ستاینه او دعاء ده چې یو څوک یې هره ورځ پنځه ځلې کوي، او دا چې په هغو کې ټول توپیرونه له منځه ځي؛ شتمن، بې وزله، مشر او کشر د لمانځه په یو صف (کتار) کې وي، زکات: چې د مال لږه برخه ده کومه چې له شرطونو او هغو اندازو سره چې الله د شتمنو په مالونو کې واجبه کړې ده او په کال کې یوځل بې وزلو او نورو خلکو ته ورکول کیږي. روژه چې هغه: له روژه ماتوونکو شیانو څخه د رمضان په میاشت د ورځې پر مهال بندېدل دي، چې په نفس کې اراده او صبر روزي. حج چې هغه: په ټول عمر کې یوځل په مکه مکرمه کې د بیت الله قصد کول دي پر هغه چا چې وس او توان یې لري او په دې حج کې ټول د خپل پیداکوونکي لوري ته په متوجه کېدو سره برابرېږي او توپیرونه او نسبتونه پکې له منځه ځي.

۲۴. او د اسلامي عباداتو تر ټولو لویه ځانګړنه داده چې طریقه، وختونه او شرطونه یې الله تعالی ټاکلي او رسول صلی الله علیه وسلم خلکو ته رسولي، او تر نن ورځې پورې هیڅ انسان د زیاتوالي او کموالي لاسوهنه پکې نه ده کړې، او ټولو پیغمبرانو علیهم السلام دغو لویو عبادتونو ته بلنه ورکړې ده.

۲۵. د اسلام رسول محمد چې د عبدالله زوی او د اسماعیل بن ابراهیم علیهم السلام له اولادې څخه دی، په مکه مکرمه کې په ۵۷۱ م کې زیږیدلی او هملته نبوت ورکړل شوی، مدینې ته یې هجرت کړی او له قوم سره یې د بوت لمانځنې په کړنو کې ګډون نه دی کړی خو په لویو کارونو کې به یې ورسره ګډون کاوه او له پیغمبرۍ مخکې یې هم غوره اخلاق درلودل چې قوم یې ورته امین وایه، کله چې څلوېښت کلن شو نبوت ورکړل شو او الله په لویونښانو (معجزو) د هغه تایید وکړ، چې تر ټولو لویه معجزه یې قرآن کریم دی، او هغه د ټولو نبیانو له معجزو لویه او تر نن پورې پاتې معجزه ده، کله چې الله د هغه دین بشپړ کړ او رسول صلی الله علیه وسلم په پوره توګه ورساوه، نو نبي صلی الله علیه وسلم د درې شپېتو کلونو په عمر وفات شو او په مدینه کې خاورو ته وسپارل شو، رسول؛ محمد صلی الله علیه وسلم د نبیانو او رسولانو د لړۍ پای ته رسوونکی دی، الله تعالی له لارښوونې او حق دین سره لیږلی، ترڅو خلک د ناپوهۍ، کفر او بوت لمانځنې له تیارو څخه د توحید او پوهې رڼا ته را وباسي او الله د هغه لپاره دا شاهدي ورکړې ده چې هغه د الله په امر را لیږل شوی بلونکی دی.

۲۶. او د اسلام هغه شریعت چې د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم راوړی، هغه د الهي پیغامونو او رباني شریعتونو پای ته رسوونکی او د بشپړتیا شریعت دی او پکې د خلکو د دین او دنیا سمون دی او هغه په لوړه درجه د خلکو د دینونو، وینو، مالونو، عقلونو او اولادونو ساتنه کوي، او

هغه د ټولو مخکینیو شریعتونو منسوخوونکی دی، لکه څنګه چې مخکېني شریعتونه ځینې پر ځینو نورو نسخه شوي دي.

۲۷. او الله تعالی له هغه اسلام پرته چې رسول محمد صلی الله علیه وسلم ورسره راغلی بل هیڅ دین نه مني؛ نو څوک چې له اسلام پرته بل دین ته غاړه ږدي هیڅکله به یې ترې قبول نه کړي.

۲۸. قرآن کریم هغه کتاب دی چې الله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته وحي کړی، او هغه د رب العالمین کلام دی، الله تعالی پرې انسانان او پېریان ننګولي تر څو د هغه په څېر یا د هغه د یو سورت په څېر راوړي، او دغه ننګونه تر نن ورځې روانه ده، او قرآن کریم د زیات شمېر مهمو پوښتنو ځواب ورکوي چې په میلیونونو خلک یې حیران کړي دي، او قرآن عظیم تر نن ورځې په هغې عربي ژبه خوندي دی چې پرې نازل شوی و، یو حرف هم نه دی ترې کم شوی، او هغه چاپ شوی خپور شوی دی، او دا لوی عاجزوونکی کتاب دی چې په لوستلو یا د معناوو د ژباړې په لوستلو ارزي، لکه څنګه چې د رسول محمد صلی الله علیه وسلم سنت، ښوونې او سیرت خوندي او د باوري راویانو د لړۍ پر بنسټ رانقل شوي دي، او په همغه عربي ژبه چاپ شوي چې رسول صلی الله علیه وسلم پرې خبرې کولې او زیات شمېر ژبو ته ژباړل شوی دی، قرآن کریم او د رسول صلی الله علیه وسلم سنت دواړه د اسلام د احکامو او تشریعاتو لپاره یوازېنۍ سرچینې دي؛ نو اسلام د هغو خلکو له کړنو څخه نه اخېستل کېږي چې

اسلام ته منسوب دي، بلکې له الهي وحي: قرآن عظيم او نبوي سنتو څخه اخېستل کیږي.

۲۹. اسلام له مور او پلار سره په نېکۍ امر کوي که هغوی دواړه مسلمانان هم نه وي او د اولاد په اړه سپارښتنه کوي.

۳۰. اسلام په وینا او کړنه کې که څه هم له دوښمن سره وي پر عدالت امر کوي.

۳۱. او اسلام له ټولو خلکو سره په نېکۍ کولو امر کوي او غوره اخلاقو او ښو کړنو ته بلنه ورکوي.

۳۲. اسلام د ښو اخلاقو لکه رېښتینولۍ، امانت اداکولو، پاک لمنۍ، حیاء، شجاعت، قربانۍ، سخاوت، د اړمنو سره مرسته کولو، له بې وزله سره کومک کولو، وږي ته خواړه ورکولو، ښه ګاونډیتوب، صله رحمۍ او پر څارویو د مهربانۍ کولو باندې امر کوي.

۳۳. اسلام د خوراک او څښاک پاک شیان حلال کړي دي او د زړه، بدن او کور پر پاکوالي یې امر کړی، له همدې امله یې نکاح حلاله کړې ده، لکه نبیانو علیهم السلام ته یې چې امر پرې کړی، چې هغوی پر هر پاک شي امر کړی دی.

۳۴. اسلام د نارواوو اصولو لکه پر الله شرک او کفر، د بوتانو عبادت، پرته له پوهې پر الله خبرې ترل، د اولادونو وژل، د محترم نفس وژل، په ځمکه کې فساد کول، کوډې، ښکاره او پټې بې حیایۍ، زنا او لواطت حرام کړي دي، او سود، د مردارې خوړل او د هغه څه خوړل یې حرام کړي چې د بوتانو او غلطو معبودانو لپاره ذبح کړل شوي وي، د

خنزير غوښه او ټول پلیت او ناپاک شیان یې حرام کړي دي، د یتیم مال خوړل، په پیمانه او تول کې کموالی یې حرام کړی دی، د خپلویو پرې کول یې حرام کړي او ټول نبیان علیهم السلام د دغو نارواوو پر حراموالي په یوه خوله دي.

۳۵. اسلام له بدو اخلاقو لکه درواغو، دوکې، غدر، خیانت، فریب، حسد او ناوړه چل، غلا، بغاوت او تېري څخه منعه کړې ده او له هر ډول پلیتو اخلاقو یې منعه کړې ده.

۳۶. اسلام د هغو مالي راکړو ورکړو څخه منع کوي چې سود، ضرر، دوکه، ظلم، فریب پکې وي او یا د مصیبتونو او د ټولنو، قومونو او افرادو د عام ضرر لامل کیږي.

۳۷. اسلام د عقل د ساتنې او ټولو هغو شیانو د حراموالي لپاره راغلی چې عقل خرابوي، لکه د شرابو څښل، او اسلام د عقل مرتبه لوړه کړې ده او هغه یې د تکلیف مدار ګرځولی، او د خرافاتو او بوتانو له ځنځیرونو یې ازاد کړی دی. او په اسلام کې هیڅ داسې رازونه او حکمونه نشته چې یوازې تر یوې طبقې پورې اړه ولري او د بلې لپاره نه وي، د اسلام ټول حکمونه او فرمانونه د صحیح عقلونو سره سمون لري، او د عدالت او حکمت د غوښتنې مطابق دي.

۳۸. او د باطلو دینونو پیروان او یا پیران یې چې کله پر هغه څه پوهه ونه لري چې ترمنځ یې ټکر وي او یا هغه چارې چې عقلونه یې ردوي، نو بیا دا ګومان کوي چې دین له عقل څخه پورته دی او یا دا چې عقل لره د دین په پوهاوي او پر هغه د را چاپېرېدو کې هیڅ ځای نشته. سره له دې چې اسلام دین د عقل لپاره یوه داسې رڼا بللې ده چې لاره یې ورته

روښانه کوي، نو د باطلو دینونو خلک له انسان څخه غواړي چې له عقل څخه خالي شي او د ځان تابع يې وګرځوي او اسلام بيا له انسان څخه غواړي چې عقل يې را بيداره کړي، تر څو حقيقتونه لکه څنګه چې دي همداسې يې وپېژني.

۳۹. اسلام صحيح علم ته لويه درجه ورکوي، او له نفسي غوښتنې څخه خالي علمي بحث ته هڅونه کوي، او زموږ په نفسونو او شاوخوا کايناتو کې نظر او فکر کولو ته بلنه کوي، او د پوهې لپاره صحيح علمي پايلې له اسلام سره ټکر نه دي.

۴۰. او الله عمل نه قبلوي او نه په آخرت کې ثواب پرې ورکوي مګر له هغه چا څخه چې پر الله يې ايمان راوړی وي، د هغه پيروي يې کړې وي او د هغه رسولان عليهم الصلاة والسلام يې رېښتيني ګڼلي وي او يوازې هغه عبادتونه قبلوي چې روا کړي يې وي؛ نو څنګه انسان پر الله کفر کوي او دا هیله لري چې ښه بدله به يې ورکړي؟ او له خلکو څخه د هيچا ايمان نه قبلوي مګر دا چې هغه پر ټولو نبيانو عليهم السلام ايمان راوړی وي او د محمد صلى الله عليه وسلم پر رسالت يې ايمان راوړی وي.

۴۱. پرته له شکه د ټولو الهي پيغامونو موخه دا ده چې حق دين د انسان مرتبه اوچته کړي، نو هغه يوازې د الله بنده وي کوم چې د ټولو کائناتو پالونکی دی او د انسان، مادې او خرافاتو له لمانځلو يې ازاد کړي؛ نو اسلام لکه څنګه چې ته وينې د اشخاصو سپېڅلتيا نه بيانوي او له خپلو مرتبو يې نه پورته کوي او نه له هغو څخه ارباب او معبودان جوړوي.

۴۲. الله په اسلام کې توبه روا کړې ده، توبه د انسان خپل پالونکي ته رجوع کول او ګناه پرېښودل دي، او اسلام خپل مخکې ګناهونه له منځه وړي، او توبه خپل مخکې ګناهونه له منځه وړي، نو اړتیا نشته چې د بشر پر وړاندې د انسان په ګناهونو اعتراف وشي.

۴۳. په اسلام کې د انسان او الله تر منځ یوه نېغ په نېغه اړیکه ده، چې هیچا ته اړتیا نشته تر څو ستا او د الله ترمنځ واسطه شي؛ نو اسلام موږ له دې څخه منع کوي چې له انسان څخه الله جوړ کړو او یا هغوی له الله سره په ربوبیت او الوهیت کې شریکان کړو.

۴۴. د دغې رسالې په پای کې دا خبره یادوو چې خلک د خپلو زمانو، قومونو او ښارونو له پلوه بلکې ټولې انساني ټولنې په خپلو فکرونو او موخو کې مختلفې دي، د ژوند په چارو او کړنو کې له یوبل څخه بېل دي، نو یو داسې لارښود ته اړتیا لري چې لارښوونه یې وکړي، او داسې نظام ته چې راټول یې کړي او داسې واکمن ته چې ساتنه یې وکړي او درنو رسولانو علیهم الصلاة والسلام دغه څه د الله له لوري د وحي له لارې په مخ وړل، د ښېګڼې او هدایت لارې ته یې د خلکو لارښوونه کوله او د الله پر شریعت یې خلک را ټولول او په حق یې د هغوی ترمنځ پرېکړې کولې، نو څومره یې چې د دغو رسولانو خبره منله د هغوی د الهي پیغامونو له زمانې سره نږدې همدومره یې په چارو کې سمون راتلو، او الله د خپل رسالت لړۍ د محمد صلى الله علیه وسلم پر رسالت پای ته ورسوله او د هغه د رسالت لپاره یې پاتې کېدل ولیکل

او هغه يې د خلکو لپاره لاربنود، رحمت، رڼا او تر الله سبحانه وتعالی پورې د رسوونکې لارې لاربنوونکی وګرځاوه.

۴۵. له همدې امله دې اې انسانه! دې ته رابولم چې یوازې الله لره رېښتینی د بل له بې ځایه پیروۍ او عادت څخه خالي ودرېږې، او پر دې پوه شه چې له مرګ نه وروسته دې خپل پالونکي ته ورګرځېدونکی یې او دا چې په ځان او شاوخوا کې دې وګوره؛ نو اسلام راوړه چې په دنیا او آخرت کې نېکبخته شې او که په اسلام کې داخلېدل غواړې نو پرتا یوازې دا ګواهي ورکول لازم دي چې له الله پرته بل حقدار د بنده ګۍ نشته او محمد د الله رسول دی، او له هر هغه څه څخه بېزاري اعلان کړې چې له الله پرته لمانځل کیږي، او باور ولرې چې الله تهول هغه خلک بېرته راپورته کوي کوم چې په قبرونو کې دي او دا چې حساب او بدله حق دي، کله چې دې دا ګواهي ورکړه؛ نو ته مسلمان شوې، نو بیا پرتا لازم دي چې د الله هغه عبادت وکړې کوم چې یې له لمانځه، زکات، روژې او حج څخه روا کړي دي که د حج وس ولرې.

په ۱۹- ۱۱- ۱۴۴۱ نېټه دا نسخه ولیکل شوه.

دکتور استاذ محمد بن عبدالله السحیم لیکلی دی.

د اسلامي زده کړو څانګه کې دعقیدې پخوانی استاذ

د ملک سعود پوهنتون د تربیې پوهنځی

ریاض، شاهي سعودي عربستان.

# فهرست

اسلام.......................................................................................... 2
د اسلام په اړه لنډ پیغام؛ لکه څرنګه چې په قرآن کریم او نبوي سنتو کې راغلی دی........................................................................ 2

ps271v1.0 - 03/09/2026